# تاسو به جنت ته داخل نه شئ تر څو مو چې ایمان نه وي راوړی، او تر هغه به مؤمنان نه شئ تر څو چې له یو بل سره مینه ونه لرئ، آیا زه تاسې ته د داسې یو څه لارښوونه ونه کړم چې که چېرته مو وکړ نو مینه به مو سره پیدا شي؟ په خپلو منځونو کې سلام خپور کړئ

له ابو هریره -رضي الله عنه- څخه روایت دی وایې چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: «تاسو به جنت ته داخل نه شئ تر څو مو چې ایمان نه وي راوړی، او تر هغه به مؤمنان نه شئ تر څو چې له یو بل سره مینه ونه لرئ، آیا زه تاسې ته د داسې یو څه لارښوونه ونه کړم چې که چېرته مو وکړ نو مینه به مو سره پیدا شي؟ په خپلو منځونو کې سلام خپور کړئ».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم څرګنده کړه چې جنت ته به یوازې مؤمنان داخلیږي، او ایمان نه بشپړیږي او د اسلامي ټولنې حالت تر هغې نه سمبږي تر څو په خپلو کې له یو بل سره مینه ولري. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم غوره کارونو ته لارښوونه وکړه چې له لارې یې مینه عامېږي، هغه د مسلمانانو ترمنځ د سلام اچولو خپرول دي، چې الله جل جلاله د خپلو بندګانو لپاره ستړي مه شي ګرځولې ده.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3361